# د ښاغلي اجمل خټک په غزل کښې ترقي پسند رجحانات

پروفیسر ډاکټر عرفان خټک

د پښتـو د سـتـر انـقـلابي شـاعـر خدائې بـخـښـلـي اجمل خټک په غزل کښې د ترقي پسند رجحـاناتو په اړه د څه وئیلو نه اګاهو ,,د غزل او تـرق پسند،، تورو په حقله مختصره وينا ضروري ګنم. ځکه چې دغسې به لوستونکي د غزل په بنه

هـغو اشعارو ته وائي چې د حُسن و عشق، وصال و فـراق اشتیاق،جنون او د یاس خبرې په کښې بیان شوي وي. (۱) غـزل د اوسی بـچي ته هم وائي او نـمـر تـرې هـم مـراد اخستے شوے دے او د تانیث دپــاره ئې غـزالــه تـکـے راوړلے شوے دے.(۲)



او د تـرقـي پـسـنـد رجـحـاناتو په مفهوم په ډېرې اسانۍ څخه پوهه شي.

د غزل د تعریف په لړ کښې ډېرو محقیقنو ډېر څه لیکلي دي. او اوس خو هر څوک په دې خبر دي چې غـزل د عربۍ تکے دے. او لغوي معنیٰ ئې د ښځـو سـره خبرې کول دي. او په اصطلاح کښې

غـیـات الـلـغـات کې د غزل معنیٰ داسې شوې ده. غـزال بـفـتح آهوبره و بمعنی افتاب.(۳) غزاله بـفـتح بچه آهوکه ماده باشند و معنی افتاب (۴) الـمـخـجد دغه تعریف داسې کوي. غزل عورتوں سے باتیں کرنا عورتوں کی خوبصورتی اور جمال کـی تـعریف کرنا او ان سے عشق بازی کرنا (۵)

ځینې پوهانو د هوسۍ بچې چې د ښکاري په تیغ اولګي او دغه وخت ئې د خُلې نه کومه چغه اوځي دې ته ئې هم غزل وئیلې دې او د ځینو دا وینا ده چې کله ښکاري سپي یوه هوسۍ په مخه کړي او هوسۍ یو داسې مقام ته اورسي چې د تښتېدو ټولې لارې پرې بندې شي نو هوسۍ خپلې غمژنې سترګې د سپو په لور راواړوي. په سپي خدائي خبر دا سترګې څه جادو وکړي چې هغه سر ټيټ کړي یوه لحظه بې خوده اودرېږي او بیا واپس روان شي. د هوسۍ د سترګو دغې تاثر ته غزل وئیلې شوې دې. قیس شمس رازی په دې ضمن کښې لیکي:

چون سگ درصید باهو رسدو آهوله بیچاره گرد د بانگي ضعیف بکند از ترس جان نگ را دقتی پیدا شود وازوی باز ایستد بچیزی دیگر مشغول شود گویند غزل الکلب وهمانا آهو را غزال ازین جانام نهاده اند(۲) په لغوي او اصطلاحي اعتیار کۀ د غزل هر څنګه تعریفونه شوي دي. خو غزل د زمانو د اوږدو سره سره خپله لمن د ژوند ټولو غزو پرزو دپاره ویره کړې ده. صرف د عشق او محبت د وصال او فراق تر تذکرو نۀ ده محدوده بلکې د ژوند ژواک ټولې ستونزې، کشالې او ناکردې ئې په خپله لمن کښې رانغښتي دي. د هر قسم مضمون دپاره ئې خپله نازکه او لطیفه غېږه واه کړې ده. د ځان ئې د عشق د رنګینو سره سره د مقصدیت په رنګ هم نمانځلې دې. او د غزل هم دغه هغه رنګ دې چې په ترقي پسند او انقلابي بلل کېږي. مونږ چې په ترقي پسند ټکي سوچ کوو نو په معنوي لحاظ ,,ترقي،، پرمختګ او پسند خوښي ته وائي یعنې ترقي خوښول اوس دا ښېله خبره ده چې زمونږ ډېر تعلیم یافته او پوهه وګړي هم د ترقي پسندۍ متعلق منفي سوچ لري. او دا ځکه چې دا د اشتراکیت او کمیونیزم یو شهرت یافته او مقبوله اصطلاح ده نو ځکه زمونږ د ناپوهه اولس څه چې د پوهه طبقې رجحان هم د ترقي پسند ټکي اورېدو سره د اشتراکیت او کمیونیزم په لور ګرځي. هر څو که کمیونسټ هم خواري کښ او پریوتې طبقې ته ترقي ورکول او د هغوي پریوتې حالت ئې اوچتول غوښتل خو د دې هر ګز دا مطلب نه شي کېدې چې هر ترقي پسند پرمختګ خوښونکې دې کمیونسټ او اشتراکي وي. په حقیقت کښې ترقي پسندي د سماجي بدلون د ذهن فرسودګۍ او پسماندګۍ د ختمولو او په ژوند کښې د جدت راوستو نامه ده. او هغه فکر،سوچ،تخیل او عمل چې دغه معنئ ترسره کوي ترقي پسند سوچ او فکر بللې شي.

د ترقي پسند ادب اصلي هدف هم دا دې چې ادب(شعر او نثر) د تش وقتي سرور او خوشحالۍ نامه نۀ ده او نۀ یواځې د حُسن او ښکلا د ننداړو نوم دې. باید چې په ادب کښې د ټولنې د مسئلو ترجماني وشي. د غریب او کمزوري اولس مرسته وشي. د زورور د زور ظلم مخنیوې وشي. غرض دا ټولنې د وګړو هره مسئله د ادب په ذریعه

رامـخې ته شي. (۷) مـونږ چې پـه دغـه حواله د پښتو ادب،مقصدیت او ترقي پسندۍ ته ګورو نو د دغې عـالي او مثالي ادب هغه ځانګړے کردار او د تـرقـي پسـند ادب د تخلیق کونکیو هلې ځلې د قامي او اولسي بدحالۍ بې وزلۍ او د جبر و تشدد د ختـمـولـو دپـاره هغه مؤثره لار ثابته شوه چې د پښتون اولس احساس محرومي ئې په احساس ئې بـرتـرۍ بـدلـه کړه. د دغې عـالـمي فکر او قومي کـاروان پـه سـرلښـکرو کښې د انقلابي نظم د بابا خـدائي بـخښـلـي اجـمـل خټک نـامــه پـه ډېـر خـصـوصـیـت او اهـمـیـت سـره د ذکر قـابلـه ده. د مـوضوع په ارتباط به د اجمل خټک د ترقي پسند غـزل پـه باب له دومره اووایم چې د اجمل خټک د رومـانـي غـزل په څنګ کښې مقصدي غزل هـم د دوي د انـقـلابـي ذهـن او ترقي پسند فکر په ورشـو کښې د دوي د عـمـلـي تـجـربو د حسـاس زهـنـیـت او د چـاپېـرچـل د مشـاهداتو او تجرباتو پېـداوار دے. او هـر کـلـه چې د عالمي ادب د ګنو ژبـو د مـطـالـعې او د زنـداني ژوند د جلاوطنۍ د ورځـو د سختیو او د خپل بې وزله اولس د خوارۍ ورځې د سـوکاله ژوند دپاره د روښولي شپو په تاثر کښې د دوي د انـقـلابـي فکر کومه پنګه د غزل په صورت کښې پښتو ژبې او ادب ته ورکړې ده هغه زمـونږ په جدیده شاعرۍ کښې د ترقي پسند غزل یـوه سـتـره،مـعـیـاري او مثـالي نمونه ده. مرحوم پـروفیسـر افـضل رضا د اجمل خټک بابا د ترقي پسند غزل په حقله داسې لیکي:

,,د ښاغلي اجمل خټک غزلې هم د هغه د نـظـمـونو په شان امتیازي رنګ لري. په سیاسي ژونـد کښې چې دې ښاغلي څه لیدلي څه پرې تېر شـوي. پــه اصلي ژوند کښې دۀ څـه کړي.... پـه نـظـریـاتـي ژونـد کښې چې څنګه جنګېدلے.... تـرقي پسند تحریک خدائي خدمتګار تحریک او خپـل اوسني سیاسي تحریک چې د هغه تخیل او جذبې ته د نظریاتو په شکل کښې څه ورکړي دي. د عالمي ادب د ژورې مطالعې چې د هغه علمي او فـکـري پنګه څنګه درنه کړې ده. د ژوند د ترخو د وختونو د سختیو سره چې د قید و بند او مسافریو کوم صعوبتونه په هغه تېر شوي په سیاسي ادبي، ادبـي،مـعـاشي او معاشرتي میدانونو کښې خپلو تـجـربو او ژورو مشاهدو چې څه ورکړي. په خپل ماحول کښې ئې په شدید احساس لوغړن مزاج چې پـه شعوري او لاشعوري طور د ادبي تخلیق څنګه هڅــه کړې د خپـل اسـلـوب انـفـرادیت او د خپلو افـکـارو،قـوت،شـدت، او صداقت چې د هغه بیان کښې کـوم خـلـوص او اثـر پېدا کړے د افکارو او تـخیلاتو دپاره چې د خپل سوچه پښتو تشبیهاتو اشـعـارو او کـنـایو شکل کښې د رمزي او الهامي کیـفـیاتو سره او په صوري او معنوي لحاظ کومو مـنـاسبو او موزونو ټکو چې د هغه کومه ملګرتیا کړې. د ژونـد کـومـو تلخو حقیقتونو چې په نوي انـداز کښې د هغه په غزلو کښې مخ ښکاره کړے دے. د پښـتـو غـزل پـنګـه ئې چې پـه کوم انداز د جـانان د غم سره د جهان او روزګار په غم ښائسته

کړې د ګـران اجـمـل په ستر معیاره غزلګویۍ په خپله ګواهي کوي،،

(۸) د پـروفیسـر افـضـل رضا مرحوم د دغې اقتبـاس نــه خـو د اجـمـل خټک د فکري او تخیلاتي رنګ د ذهني او قلبي احساس او د هغه د هـغې لوئې مقصد اندازه په ښه توګه کېږي د کوم عـالـي مـقـصـد دپاره چې هغه د جانان د غم سره د اولـس،مـعـاشرې او د جابر د ظلم و ستم د اعلیٰ او ادنیٰ د خوار او زردار طبقاتي امتیازات داسې وګنډل چې د خپل مقصدي ادب د ترقي پسند غزل رنګونو ته ئې د پښتو غزل په بڼه کښې دائمیت او اهمیت ورکړو. د اجمل خټک نظر د فضا په وسعتونو دے. د هغه شهبازي الوت اسمانونه کچ کوي. هغه د ویښ احساس او شعور څښتن څنګه د ذلالت په کوهي کښې د زوړند سر ژوند ته غاړه ږدي. او هم دغه فکر و احساس د هغوي د غزل ترقي پسند رنګ دے.

زۀ د فضا وسعت ته ګورم تۀ مې پر تړې
زۀ اسمانونه کچ کوم تۀ مې وزر تړې

زۀ په دنیا د خوړېدو نوي خوبونه وینم
تۀ مې کوهي د ذلالت کښې زوړند سر تړې

ما کښې ویښېږي د پنجرې د ماتوو ولولې
تۀ په اومړي تار زما د پنجرې ور تړې

زما جرات د شهبازۍ نن وزرونه تلي
ښکاري تۀ څوک ئې چې اوس ماله بال و پر تړې

ښاغلي اجمل خټک په خپل ترقي پسند غزل کښې په کنایو اشارو او د غزل خپلو علامتونو کښې د خپل اولس او معاشرې د کړمو پریشانو، ظلمونو او د استحصال ذکر کړے دے او دغسې ئې د ژوند ټول حقیقتونه او ټولې ستونزې د غزل په ژبه مونږ ته وړاندې کړې دي. لکه خپله چې د دې خبرې اقرار داسې کاندي.

د ژوند حقیقتونه د غزل په کنایو کښې
تصویر د زولنو دے د ذلفانو په مصرو کښې

د هر ترقي پسند او انقلابي ذهن لرونکي غزلګو شاعر په تفکر کښې دغسې کنائې،اشارې او شعري علامتونه دي چې هغه ترې د خپل ترقي پسند رجحاناتو څرګندونه کوي. اجمل خټک په دې لړ کښې د ګل،غوټۍ،ازغي،ارمانونو، اُمېدونو، وینو،پرهرونو،دار،زنځیرونو،زولنو،صیاد دام، پنجرو،ننګ،پت،لیونتوب،پښتو،غیرت،ډیوه، پتنګ،منزل،قافله،ظلم او ستم وغیره وغیره ټکي چرته په خپلو معنو راوړي دي او چرته ئې ترې د علامتونو کار اخستے دے. مثلاً

ازغو ډېر زورولے دے غوټیو زیرولے
سپرلیه چې راځې نو دا خټک درسره مل کړه

د غزل په دې شعر کښې خټک بابا د ازغو علامت د وخت د جابر او ظالم قوت دپاره مستعمل کړے دے او د غوټیو علامت ئې د خوار اولس د ښې ورځې د آبادۍ او خوشحالۍ دپاره راوړلے دے. هم دغه رنګ د جبر و ستم په ښاریه کښې د سکالر ژوند په انتظار د ځپلي او نتلي خوار اولس خپلو ارمانونو دپاره د ګاللي سختیو، او ظلمونو تذکره د غزل په دې شعر کښې څه دا رنګ کوي.

د زړۀ ویني په خولو کښې پرهرونه په سینو کښې
غوټۍ دي انتظار کښې د ازغو په ښاریه کښې

دلته هم غوټۍ او ازغي په علامتي توګه راوړل

شـوي دي. او د هـم دغې عـلامتونو په ذريعه ئې د خپـل اولـس د بې وسۍ د خوارۍ ورځې او د وخت او زمانې د جبر و استبداد د ناولي مخ نه پلۀ پورته کړے دے. او هـم دغه هغه ترقي پسند رجحان دے چې د اجمـل خټک پـه غـزل کښې په هره مخه په نـظر راځي. د ظلم د تورې شپې د رڼا کولو دپاره د خپـلو ويـنـو د مشـالونو او د خپل خوار اولـس د ځيګـر د زخـمـونو د تذکرې دپاره د لاله د ځيګر د داغ ذکـر سـره د خپـل ترقي پسند غزل رنګونه په څومره هنرمندۍ سره شوخوي.

د ظلم شپه کښې به د وينو مشالونه بل کړو
د لاله جام کښې به د خپل ځيګر داغونه وڅښو

مـونږ چې پـه دغه نقطه نظر د اجمل خټک غزل ته کتـنـه کـوو نـو پـه مـعـنوي او صوري اعتبار، په فـکـري او تـخيـلاتـي لـحاظ د هغـه د غزل بنـه د طبـقـاتي کشمکش د خوار او زردار، د ظالم سماج او ظـالـم نـظـام د غـنـدنې او د مظلومې طبقې د هـمـدردۍ د لـجـويۍ نـه روغـه ده. اجمل خټک زمـونږ د سـمـاج هـغـه حساس شاعر ؤ چې د خپل چاپيـرچـل د اولـس د ژوند ژواک پـه مرۍ چې د جـورو ستم کومې پنجې خښې شوې وې د ظلم او استبـداد او استـحـصـال کوم حـالات چې د دوي د نظره تېر شوي وو په هغې ئې هيڅ کله هم سترګې نه وې پټې کړې. بلکې په جار ئې وئيلي دي.

نـــن زمـــا د ګـوګـل زخـم د ليـدو دے
پـه کښې نـوے صباؤن په موسېدو دے

بس توره شپه اوس نشته دا د ظلم تور لوګے دے
ډيـوې به مو د زړونو بلوو مخکښې به ځو

لـنډه دا چې لـکـه څنګه د ترقي پسند غزل روايت دے اجـمـل خټک هـم پـه خپـل مقصدي او ترقي پسـنـد غزل کښې د غزل هم روايتي علامتونه چې زمونږ د غزل خاصه ده د خپـل مقصد او مدعا دپاره پـکـار راوستـي دي. دغه رنګ ئې د تشبيهاتو او استـعـاراتـو سـره هـم د خپـل غزل شان يو په دوه کړے دے. خـو دغه تشبيهات او اسقعارات صرف د غـزل ښـکـلا دپـاره نـه دي راوړلے شوي بلکې د دغې تشبيهاتو او علامتونو سره ئې مونږ ته هغه حـقيقت په ګوته کړے دے چې د لمبه لمبه ماحول او د چـاپـيـرچـل د جبر و استبداد او زمانې د جورو ستـم نـه د اجمل خټک غونډې د يو حساس ترقي پسـنـد شاعر په فکر و تـخيـل ثبت شوے دے او هم دغـه هـغـه احسـاسـات او جـذبات دي چې د اجمل خټک پـه غـزل ئې د انـقلاب،مقصديت او د ترقي پسند رجحان ټاپه لګولې ده.

خټک ليونے نۀ دے څه ضرور شته دے عالمه
راځـئ چې زنځيرونو ته په ډاګه غاړه وځو

## حوالې


(۱) نوراللغات (اردو) جلد سوم ص ۵۸
(۲) لـغات کشوری ۱۹. ايډيشـن،نـول کشور پريس لکهنو ص ۳۷۹
(۳) غيـاث اللغات و منتخب اللغات ص ۴۸۲ امير حمزه کتب خانه کانسي روډ کوئټه
(۴) هم دغه کتاب هم دغه صفحه
(۵) الـمـخـجـد اردو عـــربي لغـت ص ۷۰۸ جـديد ايډيشن دارالاشاعت اردو بازار کراچي ۱۹۹۴
(۲) الـمـعـجـم سـلسله يادګارګب لندن ۱۹۰۹ء ص ۳۸۷ از رازي شمس قيس
(۷) پښتـو غزل د شلمې صدۍ په اخري دوه لسيزو کښې ايـم فـل مـقاله ص ۱۸۹ نـاچـاپ از ګـل لخته سدوزئ
(۸) ښـاغـلے اجـمـل او پښتو غـزل ص۳۱،۳۲ از پروفيسر افضل رضا